AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۶/۰۴

# د ارمانونو راتلونکی

د ښـــکلا ګانو دې وطـــــــــن کې ، ننداري وينمه
د بلـــــــــــبلانو په هر لـــــوري ، ترانی وينمه

بيا به زرغون شي ، په اوروونو سـوځــيدلی وطن
د ســوکالی په دې چمـن کې ، نښـــانې ويـــنمه

د تــيرو شــوو زمـانـــــــو ، راته نکـــلونه وايي
دې ويرانو کې هيري شـــــــوي ، افســـانې وينمه

خدای خبر بيا دې، په وعدو کې څه بدلون راغلی؟
چې د راتلو دې ، په سلـــګونو ، بهـــــــانی وينمه

بيګا دې بيـــا ، د هوســـونو شــــوګيری کړی ده
چې نن دې ســـترګي ، لـکه ډکي پيــــماني وينمه

د تور ضــــميرو کـــوردلانو، ناپــــوهی د لاسه
د معــــــــرفت د غـــاړي هار، دانی دانی ويــنمه

منم چې يو ورځ به سر تاج شي ، د دنيا وطــــنه!
زه حقيقت کې دغــه ښـــکلي ، زمانې ، وينـــمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ